# ددرغلی (فریبکاری) خبرتیا

# څنګه کولی شئ یو جعلي وکیل وپیژنئ

داسي «درغلي کونکي» چې د مهاجرت قانون زده کړې یې نه دي کړي، د قانوني مشورو د وړاندې کولو په موخه افغانانو ته مراجعه کوي. کله چې افغانان له دغه ډول ناوړه درغلي کونکو سره ښکېل شي، په دې صورت کې دا کار د دوی د قانوني وضعیت د ځنډېدو او یا هم د لوړو لګښتونو لامل ګرځي.

## باید دا و پوښتئ چې:

- تاسو ولې زما سره اړیکه نیسئ؟
- تاسو زما د اړیکو معلومات څنګه ترلاسه کړل؟
- تاسو د کومې ادارې لپاره کار کوئ؟

  دمرستې لپاره د ILSAAinfo@icf.com سره اړیکه ونیسئ تر څو دا معلومه کړئ چې ایا دا اداره د کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر(ORR) له خوا تمویل کیږي او که نه. یا هم د خپل سیمه ییزد **کډوالو ایالتي همغږي کوونکي** سره اړیکه ونیسئ تر څو دا معلومه کړئ چې ایا دا دفتر دایالتي ادارو له خوا تمویل کیږي او که نه.

- زه څنګه بیرته له تاسو سره اړیکه ونیسم؟

  تاسو کولای شئ په انټرنیټ کې د دوی نوم او د اړیکو اړوند معلومات ولټوئ

## واورئ (غوږ ونیسئ)

**تر اندازې زیات درته په زړه پورې وړاندیز درکوي**

که ستاسو په فکر د دوی وړاندیز د منلو وړ نه وي، یعني تر اندازې زیات په زړه پورې وي، او یا هم داسې یو څه وي چې تاسو هیڅکله دا فکر نه کاوه چې دا به امکان ولري- د مثال په توګه د لسو ورځو په جریان کې د متحده ایالاتو د تابعیت د ترلاسه کولو ژمنه درکړي، نو پوه شئ چې دا درغلي یا فریکاري ده.

**دوی تضمین یا هم ژمنې درکوي.**

وکیلان نشي کولی ستاسو د قضیې د پایلو په اړه تاسو ته تضمین درکړي، او یا هم د پروسې د وخت په اړه ستاسو سره ژمنې وکړي.

**دوی تاسو ته د یو کار یا شیرینی په بدل کې د حقوقی خدماتو وړاندیز کوي.**

وکیلان هیڅکله هم د رشوت، احسان او شیرینۍ، او یا هم تر اندازې زیات لوړ فیس په بدل کې تاسو ته د قضیې د پایلې یا داسې خدماتو لکه د یو رسمي لیک لیکل، د غوښتنلیک ډکول او یا هم د دولت څخه ستاسو د قضیې یا دوسیې تائید وړاندیز نه کوي. پیسې هغه یوازینۍ قانوني مبادله ده چې تاسو یې وکیل ته د خدماتو په بدل کې ورکوئ. خو دا باید په یاد ولرئ چې لګښت یې مخکې تر مخکې د یوې ادارې او یا هم داسې یو کس سره چې تاسو باور پرې لری، تائید کړئ.

د درغلي اړوند راپور دلته ثبت کړئ: ReportFraud.ftc.gov

خرڅنګه مرسته تر لاسه کړئ:

د نویو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدماتو پروژه - ایلسا (Immigration Legal Services for Afghan Arrivals - ILSAA) چې د فدرال حکومت د کډوالو د بیا میشتېدنې دفتر (ORR) لخوا تمویل کیږي، پر شرایطو برابر افغانانو ته د مهاجرت حقوقي خدمات په وړیا توګه وړاندې کوي. د ILSAAinfo@icf.comبریښنالیک له لیارې موږ سره اړیکه ونیسئ.

د دې سند مطالب یوازې د معلوماتي موخو لپاره چمتو شوي او باید د هیڅ ډول موضوع اړوند د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمېټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو ادراې څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادې سیالۍ له لارې ترلاسه کړې دي. د نویو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدماتو پروژه ایلسا (ILSAA) سل سلنه(۱۰۰٪) د متحده ایالاتو د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیزي.